۲- تربیه کردن وعادت دادن اولادبه عزلت، گوشه نشیني وکناره کشي ازمردم .

۳- گفتن قصه هاي خیالي چون قصه هاي جن، دیو ...

٤- محبت زیاد مادربااولاد به اصطلاح نازدانگي .

براي علاج این نقیصه ونجات اطفال ازآن به امورآتي باید توجه کرد .

۱- تربیهٔ اطفال ازسن بلوغ به ایمان، عبادت خدا وتسلیم به خدا ورسول درتمام زندگي، زیرا اطفالیکه به این ترتیب تربیه شوند وبه عبادت خداعادت کنند وقتیکه به کدام مصیبتي مبتلا گردند نمي ترسند و به طرف این حقیقت قرآن کریم اشاره کرده مي فرماید : ان الانسان خلق هلوعاً اذامسه الشرجزوعاً واذامسه الخیر منوعاً الاالمصلین اللذین هم علي صلاتهم دائمون « المعارج - ۲۳)

ترجمه : انسان بي ثبات وبخیل خلق شده وقتیکه اورا شري برسدبي صبرشود چون خیري برسد بخیل شود مگر آن نمازگزاران که درنمازهاي شان مداومت مي کنند .

۲- دادن حق تصرف درامور، تحمل مسوولیت وممارست درامور به قدرسن وسالش که این امرباعث جرائت وشجاعت اوگردیده احساس خوف وترس را ازاطفال دورمي کند .

۳- نترسانیدن اطفال خصوصاً وقت گریه کردن شان ازجن، دیو وغیره حیوانات تااولاد باجرائت وشجیع بزرگ شده قدرت اقدام وعمل درآنها نیرومند باشد.

٤- فرصت دادن به اطفال که عملاً بادیگران مخالطت داشته باشند، درامورشرکت نمایند وبادیگران مانوس باشند وبه این ترتیب اطفال احساس کنند محل عطف ومحبت دیگران اند تااحساس وحشت وخوف نسبت به دیگران ازوجودشان رخت بربندد

ادامه دارد

ناروغي دگناهونو کفاره ده

ژباړن : محمد رحیم خنجر

> چي کله تاسو دکوم ناروغ پوښتني ته ورځي نو له هغه څخه د دوعا غوښتنه وکړي چي ستاسي په هکله یي وکړي (دقبولیت په اعتبار سره) دهغوي دعا دفرښتو ددعا په څیر ده .

له حضرت ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دي چي نبي کریم صلي الله علیه وسلم فرمایلي دي : الله تعالي چي کله خپل بنده سره د نیکي اراده وکړي نو هغه په ناروغي مبتلا کړي (بخاري اومسلم)

له حضرت ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دي چي پیغمبر صلي اله علیه وسلم فرمایلي دي : چي کله مسلمان ته غم یاناروغي اویا کوم بل یو تکلیف ورسیږي تردي پوري چي که هغه یوازغي هم وي نو الله تعالي به دهغه په ذریعه دهغه گناهونه کم کړي(بخاري اومسلم)

له حضرت ابو موسي اشعري نه روایت دي چي نبي کریم صلي الله علیه وسلم فرمایلي دي :

کله چي کوم بنده ناروغ شي او یا په سفر کي وي الله پاك دهغه په حساب کي هغه نیکي لیکي چي هغه دتندرستي اواقامت پر وخت کي کړي وي (بخاري)

دناروغي پر وخت دصبرکولو ثواب :

صبر د الله تعالي له خوا ته دمسلمان لپاره ترټولو غوره تحفه ده کله چي مسلمان ته ناروغي ،تکلیف او یابل زیان ورسیږي نو هغوي له پکاردي چي صبر وکړي .

له حضرت صهیب بن سنان رضي الله عنه نه روایت دي چي پیغمبر صلي الله علیه وسلم فرمایلي دي : دمؤمن معامله عجیبه ده هغه ته په هرحال کي خیر دي ،خیر.

مؤمن دي ته ویل کیږي چي کله هغه ته کومه خوشحالي پیداکیږي هغه پري شکرکاږي او داد هغه له پاره خیر دي او که بر عکس کله هغه ته مصیبت ورسیږي نو هغه پري صبر کوي او دا هم دهغه له پاره خیر دي (مسلم)

له حضرت انس رضي الله عنه نه روایت دي چي مادنبي کریم صلي اله علیه وسلم نه داوینا واوریده چي دالله تعالي ارشاد دي چي کله زه کوم بنده له دوو خوږو نعمتونو (سترگو) نه بي برخي کړم او هغه پردي صبر وکړي نو زه به دهغو په بدل کي جنت ورکړم (بخاري) دناروغ دعاقبلیږي :

له حضرت عمر رضي الله عنه نه روایت دي چي نبي کریم صلي الله علیه وسلم فرمایلي دي . چي کله تاسو دکوم ناروغ پوښتني ته ورځي نو له هغه څخه ددعا غوښتنه وکړي چي ستاسي په هکله یي وکړي ، (دقبولیت په اعتبار سره) دهغوي دعا دفرښتو ددعا په څیر ده(احمد ابن ماجه)

دناروغ لپاره جایزدي چي خپل تکلیف بیان کړي.

د ناروغ له پاره پکاردي چي خلکو ته دخپلي ناروغي اوتکلیف بیان وکړي لیکن په دومره اندازي سره چي هغه بي صبري اوله الله تعالي څه دناراضي اظهار ونکړي .

له حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه روایت دي چي دنبي کریم صلي الله علیه وسلم په خدمت کي حاضر شوم اوهغه مبارك په سخته تبه اخته و مادهغه مبارك پریدن لاس کیښود او عرض مي وکړ ستاسي سخته تبه ده ؟ وي فرمایل . هو په مادومره سخته تبه ده څومره چي پرتاسو دوو کسانو وي (بخاري اومسلم)

حضرت عایشه رضي الله عنها ناروغه وه اونبي کریم صلي الله علیه وسلم دهغي دناروغتیا پوښتنه وکړه هغي وویل :

"اه زما سره " نبي کریم صلي الله علیه وسلم وفرمایل بلکي اه زما سره یعني زه هم پدي تکلیف کي له تاسره پوره همدردیم (بخاري)

دناروغ دپوښتني تاکید اواهمیت :

له حضرت ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دي چي نبي کریم صلي الله علیه وسلم فرمایلي دي :دمسلمان پربل مسلمان پنځه حقه دي .

دسلام ځواب ورکول - دناروغ پوښتنه کول - له جنازي سره تلل - ددعوت قبلول - په پرنجي کولو یرحمك الله ویل یعني الله دي پرتارحم وکړي (بخاري اومسلم)

د ناروغ دپوښتني فضیلت اوثواب :

له حضرت ثوبان رضي الله عنه روایت دي چي پیغمبر صلي الله علیه سلم فرمایلي دي : مسلمان چي کله دمسلمان وروړ پوښتني ته ځي ، ترهغه به دجنت په میوکي وي چي ترڅو بیرته نه وي راغلي (احمد ، مسلم -ترمذي)

دمسلم په روایت کي دا الفاظ زیات دي چي صحابه و له پیغمبر صلي الله علیه وسلم نه پوښتنه وکړه چي دجنت له خرفي نه مراد څه دي ؟ هغه مبارك وفرمایل له هغه څخه مراد دجنت میوه ده .

له حضرت علي رضي الله عنه نه روایت دي چي وایي ما له نبي کریم صلي الله علیه وسلم نه دا وینا اوریدلي ، چي مسلمان دسهار پروخت کي دخپل مسلمان وروړ پوښتني ته ورشي نو تر ماښام پوري او یازره پرښتي دهغه لپاره درحمت دعاکوي اوکه دماښام پروخت دهغه پوښتني ته ورشي نو تر سهار پوري اویازره پرښتي دهغه لپاره درحمت دعاکوي اودهغه لپاره به په جنت کي خریف (پخي میوي) وي (ترمذي)

د ناروغ د پوښتني آداب :

کله چي یومسلمان دخپل مسلمان وروړ د پوښتني لپاره ځي نو هغه ته پکاردي چي دناروغ لپاره دصحت اوعافیت دعاوکړي اوهغه پر صبرسره تلقین کړي او هغه ته داسي خبري وکړي چي دهغه زړه پري خوشحاله شي ، اوهغه هم دامحسوس کړي چي دهغه په تکلیف کي کمي راغلي دي.

دنبي کریم صلي الله علیه وسلم ارشاد دي چي کله تاسو د کوم ناروغ خوا ته ورځئ نو هغه ته داوږده عمر امیدورکړي پدي باندي د الله تعالي قضا نشي بدلیداي . لیکن ناروغ پري ډادمن کیداي شي (ابن ماجه بحواله المغني ج ۳ ص ۳۳).

ددي وخت لپاره له نبي کریم صلي الله علیه وسلم نه ګڼ شمیر دعاگاني ثابتي دي چي په لنډ ډول سره له هغو دعاګانو څخه څودعاګاني دمثال په ډول رانقلوو.

له حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنه نه روایت دي چي پیغمبر صلي الله علیه وسلم دیو بدوي دپوښتني لپاره تشریف یوړ نو کله چي په هغه مبارك دکوم ناروغ دپوښتني لپاره تشریف یوړنوفرمایل به یي :

هیڅ پروا نشته دغه ناروغي به ان شا الله تاسو له ګناهونو نه پاك کړي .

له حضرت عایشه رضي الله عنه نه روایت دي چي پیغمبر صلي الله علیه ومسلم به کله دخپلي کورني دکوم یوه د پوښتني لپاره تشریف یوړ نو پر هغه به یي ښي لاس کیښود اوفرمایل به یي : اي دخلکو پروردګاره ! تکلیف لري کړه ، شفاورکړه ،ته شفاورکوونکي یي . ستا له شفا نه علاوه بله کومه شفا نشته ، ته داسي شفا ورکړي چي ناروغي یي پاتي نشي .

له حضرت سعد بن وقاص رضي اله عنه نه روایت دي چي پیغمبر صلي الله علیه وسلم زما پوښتني ته تشریف راوړ نو دعایي وکړه چي (اي الله سعد ته شفا ورکړه ، اي الله سعد ته شفا ورکړه ، اي الله سعد ته شفا ورکړه) .

له حضرت عثمان بن ابي العاص رضي الله عنه نه روایت دي چي زما په وجود کي دردو ، ما پیغمبر صلي الله علیه وسلم ته دهغه یادونه وکړه نو هغه مبارك وفرمایل : دوجود په کومه برخه کي چي دي درده پرهغه ځاي لاس کیده ، بیا دري ځلي بسم الله ووایه او اوه ځله دا دعا ولوله چي :

زه د الله (ج) دقدرت اوقوت په ذریعه دخپل موجوده تکلیف څخه او

(۷)مخ

آداب اسلامي

عبدالظاهر حمیدي

داوبو څښلو آداب

د اسلام مقدس دین داسي یو نظام دي چي د ژوندانه د ټولو برخو لپاره ځانګړي لارښووني لري اوپدي ترتیب سره یومسلمان کولي شي د خپلو ارتیاو د پوره کولو ترڅنګ معنوي ګټي هم تر لاسه کړي اوداکار هله کیداي شي چي هرکار د اسلام د مقدس دین د لارښوونو مطابق عیارکړي چي یو له هغي جملي څخه د اوبو څښلو آداب دي چي موږ یي دلته په لاندي ډول د رسول الله (ص) دمبارکو احادیثو په رڼاکي وړاندي کوو.

۱ - د اوبو څښلو په پیل کښي باید بسم الله اوپه اخرکښي الحمدلله وویل شي او په دري ساه باندي وڅښل شي .

دحضرت ابن عباس (رض) څخه روایت دي چي رسول الله (ص) فرمایلي دي د اوښ په شان په یوه ساه اوبه مه څکي ،په دوه یادري ساه څکي ، چي اوله کښي بسم الله او اوبه اخره کښي الحمدلله ووایی ،رواه ترمذي .

۲ - ساه باید له لوښي نه بهر واخیستل شي . ځکه پدي کښي هم دانسان وقار په ځانګړې اوهم بغیر له تکلیفه موږ او به څکلي شو . رسول الله (ص) پدي هکله فرمایي حضرت ابوقتاده (رض) نه روایت دي چي رسول الله (ص) په لوښي کښي ساه اخستلو نه منع کړي ده،بخاري اومسلم، یعني لوښي ته څوڅلري کړي او بیا دي ساه واخلي .

۳ - کوم کس چي ښي طرف ته وي وروسته له څښلو دي هغه ته لوښي ورکړي . ولوکه هغه ماشوم هم وي.

له حضرت سهل بن سعد نه روایت دي چي رسول الله (ص) ته د څښلو څه شي وړاندي کړي شو. رسول الله (ص) تري وڅښل دهغوي ښي لاس ته یو هلك وو. نو رسول الله ورته وفرمائل که ته اجازه کوي چي پاتي اول دي مشرانو ته ورکړم . هغه هلك وویل نه . د الله دستاسو د طرفه په څما څه حصه ده په هغي کښي زه هیڅچا ته ترجیح نشم ورکولي . نو رسول الله (ص) پیاله د هغه په لاس کښي ورکړه . بخاري اومسلم .

البته دا پدي خاطر وه چي هغه هلك درسول الله ښي طرف ته ناست وه اونیت کي وه او هغه هلك هم داغوښتل چي پاتي شوي اوبو باید د رسول الله دمبارکو لاسوڅخه واخلي اوڅښي .

٤ - کراهیت داوبوڅښلو د مشك له خولي اویا بولوي ځیږ څخه . ځکه کیداي شي له هغه مشك څخه زیاتي اوبه راشي او دیته کوم تکلیف پیښ کړي . حضرت ابوسعد خدري (رض) نه روایت دي چي رسول الله ددي څخه منع کړي ده چي د مشك خوله را تاوه کړي شي او ورته اوبه وڅکل شي ،یعني چي دمشك خوله راغونډه کړي اوخوله وړباندي کیدي اوبه تري وڅکي ،نه . اوبه په لوښي کښي اچول او بیا څکل پکار دي ،راوه بخاري ومسلم .

٥ - په سپینو زرو او سرو زرو په لوښو کښي اوبه څکل منع دي .

ځکه دا دکبراوغرور نښه ده اویا هم داچي داشیان زمونږ لپاره په جنت کښي دي . نه په دنیا کښي له حضرت ام سلمة (رض) نه روایت دي چي رسول الله فرمایلي دي .څوك چي د سپینو زرو په لوښي کښي اوبه وڅکي هغه په خیټه کښي د دوزخ اوراچوي . رواه بخاري ومسلم .

٦ - په اوبو وغیره د څښلو په شپانو کښي پو کي باید ونشي .ځکه له یوه طرف څخه دانسان وقار اوشرف ته زیان رسوي او په طبیعي لحاظ هم بعضي زهرجن مواد دي چي دپوکي سره په اوبو اوخوروکښي پري وزي اوانسان ته مریضي پیښوي . دحضرت ابوسعد خدري (رض) څخه روایت دي ، چي رسول الله (ص) فرمایلي دي : دڅکلواوبو ته پوکي مه ورکوي . یو سړي وویل : که په لوښي کښي څه شي وي نو رسول الله ورته وفرمایل لر اوبه تري توي کړه هغه شي ورسره لاړشي .هغه وویل زه په یوه ساه نه مړیږم نورسول الله (ص) وفرمائل لوښي دخولي څخه لري کړه ، اوبیا ساه واخله . ترمذي .

۷ - اوبه باید په ناسته وڅښل شي :

دحضرت انس بن مالك (رض) څخه روایت دي چي رسول الله (ص) په ولاړه د اوبو څښلو څخه منع کړي ده .

حضرت قتاده وایي موږ له انس (رض) څخه پوښتنه وکړه خوراك څنګه دي ؟ هغه وویل داخو ډیربد دي یادیرخراب دي چي څوك په ولاړه خوراك کوي .

رواه مسلم .

۸ - اوبه ورکوونکي باید ترټولووروسته اوبه وڅښي :

حضرت قتاده (رض) څخه روایت دي ؟ رسول الله (ص) فرمائلي دي چي د قوم ساقي دي دټولو نه وروستي وي یعني په څکلوکښي تر ټولو نه وروستي وي . ترمذي

داوبو هغه آداب چي دابوڅښلو په باره کښ دنبوي احادیثو په رڼاکښي وړاندي شول .

پر ټولني دښو ...

اودخلکو په خلاصون کي یي مصرف کړي ، لمونځ وکړي ، زکات ورکړي، کله چي عهد کوي پرهغه وفا وکړي په سختیو اوتکلیفونو اوتنګي په وخت کي صبرکوي . او دا وله هغه خلك دي چي د نیکو کاري په دعواکي رښتوني دي او همدا وله ده خاص پرهیز ګاران . (البقره - ۱۷۷)

څوك چي ښه اعمال سرته رسوي دخلکو خوښي ،دهمدي نیکي له امله خداي تعالي دخلکو په زړونو کي دهغه مینه اچوي .قرآن کریم فرمایي . بي له شکه څوك چي ایمان راوړي اوښه کارونه وکړي نو مهربان خداي به ورته د خلکو په زړونوکي مینه پیدا کړي... دحضرت محمد صلي الله علیه وسلم ټول ژوند زمونږ لپاره د پرهیز ګاري یوه روښانه نمونه ده هغه (ص) څه یي چي ویلي پرهغه یي عمل کړي . یو کس هغه وخت دښو اخلاقو څښتن کیداي شي چي په قول او عمل کي دحضرت پیغمبر صلي الله علیه وسلم پیروي وکړي د پیغمبر (ص) کامل اطاعت او دلاري تعقیبول ترهغه نه میسریږي چي حضرت پیغمبر (ص) ته دزړه له کومي احترام او مینه ورسره ونه لري . دا مینه اواحترام به دمورواو اولادونو په ګډون دټولو دنیوي شیانو دمیني جانشین وي رښتیاني عقیده او ایمان له حضرت محمد صلي الله علیه وسلم سره مینه ده هغه (ص) داسي یو بنیاد چي د ایمان ټول اساسات پرهغه استواره دي .

حتي دخداي پروحدانیت باندي باورلرل هم پرته له دي چي دحضرت محمد د رسالت پر ختموالي باوورونه لري څه ګټه نه لري.

نن مسلمانانو هغه لارچي د پیغمبر (ص) په واسطه ورته ښودل شوي پریښي اودنورو خلکو پیروي کوي . دوي داسي یو ژوند کړي چي صرف په ظاهري توګه مسلمانان دي . هر یو خپل ځان هیرکړي او تل د نورو د خلاوو په لټه کي دي او په نورو پسي غلطي خبري او تور لګوي .

ابوهریره (رض) روایت کوي چي حضرت محمد (ص) فرمایلي " دا هم دیو ځا په تقوا او غوره توب کي شامل ده چي څوك د بي ارزښته اوغیر ګټورو کارنو څخه ځان وساتي "

که څوك د هرنیك کار پیل وکړي نو دا جر مستحق ګرځي . دخلکو د سوکالي له پاره هر هغه کار چي له قرآن اوسنت سره ټکرونکړي په اسلام کي اجر لري.

څوك چي د ښه کار پیل وکړي نو د ټولو هغو کسانو په اندازه به اجرورته ورکړ شي چي له ده وروسته دانیك کارکوي بي له دي چي دهغوداجر څخه څه کم شي .

اوڅوك چي د بدوکارونو پیل کوي پرخپلي ګناه سربیره به دنورو ټولو کسانو دګناه پیټي دده پراوږو بار وي . (ابن ماجه)

اسباب سعادت وشقاوت

قاضي محمود الحسن "جاهد"

> به خوبي میتوانیم بگوئیم که پایهٔ اصلي سعادت وشقاوت اراده وخواست خود انسان است ، اوست که مي تواند وسایل لازم را براي ساختن خویش وحتي جامعه اش فراهم سازد واوست که مي تواند با عوامل بدبختي وشقاوت به مبارزه برخیزد ویاتسلیم آن شود .

خداوند (ج) فرموده است « روزیکه قیامت فرارسد هیچکس جزبه اجازهٔ اوسخن نمیگوید گروهي ازآنها شقاوتمند اند وگروهي سعادتمند . اما آنهایي که بدبخت شدند درآتش اندوبراي آنها زفیروشهیق است . جاودانه درآن خواهند ماند تاآسمان وزمین برپاست ،مگرآنچه پروردگارت بخواهد که اوتعالي هرچه را اراده کند انجام دهد. اما آنهائي که سعادتمند شدند دربهشت جاودانه خواهند بود، مادام که آسمانها وزمین برپاســت مگرآنچه پروردگارت بخواهد بخششي است قطع نشدني » (آیات ۱۰۵ - ۱۰۸) سورهٔ هود .

انسان ها ماموراند تاحسب هدایات الهي زندگي نموده اوامر اوتعالي را بجاآورده ازنواهي اش بپرهیزند . اوامرونواهي درشریعت غراي محمدي روشن بوده کلام رباني واحادیث گرانمایهٔ پیامبر اسلام منابع معتبر اندکه هرانسان بااستفــاده از آن دوباقوانین اسلام آشنامي گـــردد. درنتیجهٔ چگونگي برخورد بااوامر ونواهي مردم بدوگروه تقسیم مي شوند . گروهي راه شقاوت رابرگزیده خلاف قوانین شرعي زندگي مي کنند وگروهي راه سعادت رااختیار کرده پابند قوانین اسلام مي گردند. دردنیا همــه انسان هاوگروه هامدعي حقانیت عقــیده وروش بوده عملکردخودرا باسنجش که ازذهن شان نشأت مي کند باموازین اسلامي منطبق مي دانند که اکثراً برعلاوه آنکه باموازیــن اســـلامي انطباق ندارند درهمپاشي وحـدت مسلمانان اهداف استعماري دشمان اســلام را برآورده میسازند اما واقعیت هاچنان نیست که همه تصورات مصیب بوده حقایق راباخود داشته باشند بعضاً داراي چنان تصورات واهي وبي اساس اندکه بطلان آن ازآفتاب هم روشنتر مي باشدولي باآنهم جهت دریافــت منافع مادي وبرچسب کردن شخصیت کاذبانه همه افتخارات جامعه رالگدمال کرده خودرا درمحراق عالي جامعه قرارمیدهند .

همین ادعاهاي شخصي وگروهي است که باعث ایجاد ناملایمات درجوامع گردیده شیرازهٔ همبستگي انسان هارا مي گسلد . خداوند (ج) انسان را بصیرت داده است تاخوبي ها رابرگزیده ازبدي ها بپرهیزد سعادت وکمال را برشقاوت ونارسائي هاترجیح داده دست بکاروعمل شود. ماهیت اصلي دنیا ومفهوم واقعي رستاخیز رادرنظرگرفته اقدام به کاري کندکه باعث سرفرازي اش دردنیا وآخرت گردد . برمنافع مادي وزودگذردنیوي چشم اندوخته پاداش عمل را درآخرت انتظارکشد .

آنانیکه به دین خدا چنگ زده باکمال بصیرت وبینش اسلامي درانجام اعمال همت مي گمارند سعادتمندان جوامع بوده خویشتن را ازمصایب وآفات نجات مي دهند معکوساً کسانیکه ازدین فاصله گرفته باترجیح دادن آمال وارزوهاي شیطاني قرین طاغوت گردند شقاوتمندان اندکه گرفتارمجازات وبلاهامي گردند .

پس بخوبي میتوانیم بگوئیم که پایه اصلي سعادت وشقاوت اراده وخواست خودانسان است اوست که مي تواند وسایل لازم رابراي ساختن خویش وحتي جامعه اش فراهم سازد واوست که مي تواند باعوامل بدبختي وشقاوت به مبارزه برخیزد ویاتسـلیم آن شود.

درهرجامعه افراد سراغ میشود که خوبي هارادرنظرگرفته میکوشند تابانام نیك زندگي کرده به انسان هاي ماحول خویش مصدر خدمت واقع شوند وهستند انسان هاي که جزنام انسانیت خصایل وکمالات انساني آنهاراهمراه نبوده شب وروز ازاذیت وآزاردیگران لذت مي برند.

سعادت وشقاوت نتیجه وانعکاس اعمال انسانهااست که بااراده واختیارآنرا انجام مي دهند. چنانچه ازپیامبر علیه السلام (ص) نقل شده است « من علامات الشقاء جمودالعینین وقسوة القلب وشدة الحرص في طلب الرزق والاصرارعلي الذنب » ازنشانه هاي شقاوت آنست که هرگز قطره اشکي ازچشم انسان نریزد ونیز ازعلامات آن سنگدلي و حرص شدید درتحصیل روزي واصراربرگناه است . همین چهارچیزیکه درحدیث فوق بیان شده همه اموریي است اختیاري وانسان مي تواند به اختیار خود این چیزهارا ازخود دورساخته ازشقاوت یکسو شود. انسان مي تواند اخلاق اسلامي را درخویش جاي داده ازگناه واصرار برآن بپرهیزد. درروایت ازحضرت علي (رض) چنین مي خوانیم السعیدمن وعظ بغیره والشقي من انخدع لهواه وغروره « سعادتمندکسي است کـــه ازسرنوشت دیگران پندگیرد وشقاوتمندکسي است که فریب هواي نفس وغرورش را بخورد » .

آري ! آنانیکه فریب هواي نفس وغرور راخورده به گناه مبادرت مي ورزند ،آهسته آهسته صیقل وصفاي قلب شان رانقطه هاي تاریك گناه احاطه کرده آخرالامر درزمرهٔ اشقیاشمرده مي شوند . درحدیثي ازپیغمبر اسلام (ص) مي خوانیم که فرموده است « کثرة الذنوب مفسدة للقلب » یعني گناهان زیاد قلب انسان را فاسد میکند . درحدیث دیگري چنین آمده است « ان العبداذااذنب ذنباً نکتت في قلبه نکتته سوداء فان تاب ونزع واستغفر صقل قلبه وان عادزادت حتي تعلوقلبه » هنگامي که بنده گناه کند نکته سیاهي درقلب اوپیدامي شود .اگرتوبه کند وازگناه دست بردارد واستغفارنماید قلب اوصیقل مي یابد واگرباز هم به گناه برگردد سیاهي افزون مي شود تاتمام قلبش رافرا ، میگیرد » .

انسان باادامه گناه لحظه به لحظه درتاریکي روحي بیشتري فرومي رود به جائي مي رسدکه گناهانش درنظرش حسنات جلوه مي کند وگاه به گناهش افتخارمي نماید ودراین مرحله راههاي بازگشت به روي او بسته مي شود وتمام پلهاي پشت سرش ویران مي گردد واین خطرناکترین حالتي است که ممکن براي یك انسان پیش آید. آري بدترین اثرگناه، وادامه آن تاریك ساختن قلب وازمیان بردن نورعلم وحس تشخیص است . گناهان ازاعضاء وجوارح سرازیر قلب میشود وقلب را به یك محل گندیده ومتعفن مبدل میسازد.

ملت عراق هنوز هم در آتش تحریم اقتصادی

مترجم : حامد عزیزي

هنگامیکه دراوایل ۱۹۹۱ جنگ خلیج پایان یافت ، عراق ازلحاظ اقتصادي درزمره فقیرترین کشورهای جهان وحتی بدتر ازآن قرارگرفت . زیراطبق ارقام (صندوق تقدعربی) خسارات مادی عراق به (۲٤۰) ملیارد دالر تخمین زده می شد ازنقطه نظرقوای بشری درحدود ٤۰ -۵۰ فیصد اردوی آن متلاشی ویا نابود

دینارعراقي به اثر تحریم اقتصادي ارزشش را ازدست می دهد

گردید وعلاوتا این جنگ واقعات وحوادثی را در شمال وجنوب عراق ازخود بجا گذاشت . تسلط حکومت برنواحی زیادي ازمناطق مزبور خاتمه یافت که مصائب عراقی ها نه تنها درهمین جا خاتمه یافت بلکه در ٦ اگست ۱۹۹۱شورای امنیت ملل متحد بخاطرجلوگیري ازتحرکات نظامی عراق ، تحریم اقتصادي وبعضی ازشروط دیگر رابراین کشور تحمیل نمود وتقریبا حدود چهارسال میگذرد که ملت عراق درآتش این تحریم می سوزد که این تحریم اثراتی ناگواري برکیان اقتصادي ،اجتماعی ، نظامی وسیاسي عراق نیز برجا گذاشته است که اختصارات نکات مهم آن ذیلاً نگاشته میشود :

الف : درساحه اقتصادی :

این تحریم عراق را درعرصه اقتصادی تحت فشار زیاد قرارداده ، طوریکه ارزش دینا رعراقی قبل ازجنگ خلیج معادل ۳، دالر بود ، درحالیکه درسال (۱۹۹۳) یك دالریه ۷۰ دینار عراقی تبادله میشد ، درجون سال جاری میلادي (۱۹۹٤) یك دالریه (۱۱۰) دینار وبعد از یکی دوماه یك دالریه (۱۵۰)دینارعراقي دربازار اسعارتبادله گردید دراگست (۱۹۹٤) قیمت یك دالردربرابر (٦۵۰) دینار دربازارسیاه تبادله شد که بعدازنقل وانتقالات نیروهای نظامی عراق درسرحدات کویت دراکتوبر (۱۹۹٤) نرخ دینارعراق ارزشش را دربرابردالر ازدست داده ، طوریکه فعلا یك دالر دربرابر(٦۳۰) دینارعراقی مبادله میگردد . علاوتاً انفلاسیون وتورم پولی درحدسرسام آورواعظمی دامنیگر اقتصاد عراق گردیده که نرخ اشیا وکالاهادر بازارها چندین برابررفته است ، طوریکه درنومبر۱۹۹٤ قیمت یك کیلو روغن به (٦۰۰) دینار ، یك کیلوبرنج (٤۵۰) دینار یك کیلو آرد (۲۵۰) دینار ، یك کیلو گوشت (۹۰۰) دینار ، یك کیلوبوره (۵۰۰) دینار ویك مرغ (۱۲۰۰) دینار صعود نموده است . باوجودیکه روزانه درحدود (۵۰۰-۷۰۰) عراده موترحامل مواد غذائی سبزیجات وکالاهاي موردضرورت ازطریق سرحدات ترکیه داخل عراق میگردد وضمناً ازطریق سرحدات عراق با ایران ارمنی ها رفت وآمد های نیزبه منظور انتقال اشیای مورد ضروت دارند مگر درآمد وعواید مردم دراثر این تحریم تقلیل یافته است مثلا حقوق ماهوار طبقات متوسط (مامورین وکارکنان دولتی) عراق میان ۳۰۰ - ۵۰۰ دینار (معادل یك دالر امریکائی وحقوق ماهوار مامورین عالی رتبه میان ۱۰۰۰- ۲۵۰۰ (۲-۵ دالر امریکایی) می باشد ، این کمترین حقوقی است که ریکارد آن در جهان دیده نه شده است .

۲- درساحه اجتماعی :

فقرومشاکل یك سلسله ظواهر سو اجتماعی توأم بافسادرادرجامعه عراق به میان آورده است . سرقت وچوروچپاول درعراق حکومت رامجبور ساخته است تا تدابیر سخت امنیتي واجراات لازم رابخاطر جلوگیری ازسرقت واغتصاب دارائی های مردم روی دست گیرد زیرا سرقت وغضب خدامات ومرافق عامه را متأثر ساخته است طوریکه آب آشامیدنی صحی خیلی کم یافت میشود وبنابرنبودن وسایل کافی وبودجه لازم ، حکومت نتوانسته است تادرزمینه بهبود ورفاه خدماتي مردم ، قدم چندانی بردارد که این خود (نبودن آب آشامیدنی صحی) باعث انتشار امراض مختلف ساری شده که لازم است در زمینه رفع این مشکل کارشود . راه های تدارکاتی وترانزیتي ، پل ها قسماً تخریب شده است وبه ترمیم ضرورت دارد ، دربخش خدامات تعلیمي اکثریت ازمکاتب وتاسیسات تعلیمی بنابرنبودن وسایل ولوازم کافی مسدود شده اند

وضع فعلی شفاخانه هاومراکزصحی قناعت بخش نبوده ادویه کافي وخدمات طبی دراین مراکز بنابر نبودن مواد لازم وپرسونل متخصص بامشکلات زیادی

باوجود وفرت مواد خوراکي قیمت ها بلند رفته است

روبرو است حکومت عراق بعضي ازپروژه هایی را ازجمله تاسیس یك قصربرای کنفرانس های بین المللی وتاسیس وبرج صدام بخاطر موارد مخابراتی ، بناي یك مسجدبزرگ بین المللی ،احداث سرکها وخیابان های شش جهته که هرکدام به مصارف وبودجه هنگفتی ضرورت دارد روی دست گرفته است درهمین حال ۵۰ فیصد ازمجموع مردم عراق روی اسباب وعوامل گوناگونی بیکار بوده واضافه از (۱۰۰) ملیارد دالر قروض خارجی را بردوش دارند وهیچکدام ازپروژه های فوق الذکر حکومت ، درد مردم را دوا کرده نمی تواند تماما شکل تشریفاتی داشته وباعث افزایش مصائب وآلام براي مردم عراق میگردد عواید ملی عراق ازدرك فروش نفت سالانه (۱۱) میلیارد دالر بوده که درحدود (۹۰) فیصد از مجموع کل عوایدعراق راتشکیل میدهد واین نمی تواند ورشکستگی اقتصادي آنرا مرفوع دارد که این خود باعث هرج ومرج وفساد اجتماعی ومشکلات عامه گردیده است.

۳ - درساحه سیاسي :

جنگ خلیج تاثیراتش رادرعرصهٔ سیاسی نیزبرعراق گذاشته است باوجود شکست نظامی وتحریم اقتصادي ، یك سلسله پریشانی های دوامدار سیاسي نیز دامنیگرعراق می باشد .مثلا درشمال ازحکومت مرکزی متابعت نمی کنند وهمچنان جنوب عراق شاهد یك سلسله حوادث ناگوار وهرج ومرج امنیتي بوده که حکومت مرکزی قادر نه شده تادرین مناطق امنیت واستقرار سیاسي را برقرارسازد ونوعي از انارشی، اختناق وملوك الطوایفی درآن جا حاکم است که روزتاروز وضع امنیتی عراق متشنج شده وباعث قیام ها ، کودتا ها و .... بخاطرسقوط رژیم صدام م گردیدودرمقابل ، حکومت عـراق در بـرابـرآنان ازخشونت بیشترتـاسرحـد اعدام کارمیگرد ، طوریکه دهها نفر ازصاحب منصبان ارشد دولتي تاجران ملی راتاحال به اتهام دست داشتن درسقوط رژیم صدام اعدام نموده اند ، که می توان حوادث سال ۱۹۹۳ - ۱۹۹٤ را مثال داد ودرنومبر(۱۹۹٤) ، ۱٦ نفر ازصاحب منصبان گارد خاص به اتهام دست داشتن درکودتاي نافرجام علیه حکومت ،اعدام گردیدند .

ن . شینواري

دائتلافي اداري د رئیس دبیاټاکني چل

څه کم دوه کاله وړاندي استاذرباني دیري ناچلي غونډي په ضمن کي خپل ځان رئیس جمهوراعلان کړ اودخپلي زرخریدي شوري څخه ئي ددوه کلني دوري دتائید مهرونه واخستل خودملت قاطع اکثریت داکثروګوندونو دمشراتوپه شمول ددغي جعلي شوري په پریکړو نیوکي وکړي اوخبره عمومي قیام اوجګړي تـه ورسیده خودداخلي اوخارجي خراخربو په مینځګړتیادغه اورغلي اونتیجه ئي داسلام آبادپه موافقه کي رانښکاره شوه .ددغه تړون په وخـت کـي دجـهـادي ګوندونوټولورهبرانو دهیواد دآینده جمهوره‌ټاکلواودغه دمعینتي مودي په هکله مستقله فیصله وکړه اودحل وعقددجعلي شوري ټولي پریکړي مسکوتي پاتي شوي دوي دخپل منځ څخه ددغي چوکي لپاره ویرشایق محترم استاذرباني پـه دغه منصب خوشحاله کړ اودکارموده ئي ورته یونیم کال وربه ګوته کړه اودائي ثابته کړه چي ګواکي دافیصله دپیښور دمعاهدي بوه کړي ده څکه په دغه تړون کي دمجددي صاحب لپاره دوه میاشتي اوورپسي داستاد رباني صاحب لپاره شپږمیاشتي محدوده موده ټاکل شوي وه خوپه استاد باندي داشرط ایښودل شوي و چي دخپل کاریه دوران کي به دحل اوعقد دشوري دجوړولو اقدام کوي ترڅودملت نمایند ګان دراتلونکي یونیم کال لپاره رئیس دولت وټاکي خراستاد دخپل فطري عادت له مخي ددغي شوري په رابلولکي ناغیري وکړه اوبه دي ډول ئي خپله دقدرت موده یوه نیمه میاشت نوره هم وراوږده کړه خوبالاخره ئي دخپل کاریه دوران کي خپله پلوي اوزرخریده شوري راوغوښته اوخپل ځان ئي ورباندي ددوه کالولپاره رئیس جمهوروټاکه خو دقیادي شوري اکثروغړو دشوري ددائربدو څخه مخکي هغې ته دورتګ مقاطعه اعلان کړه څکه دملت دقاطع اکثریت دتائید څخه محرومه وه همداوجه ده چي داسلام آباد په تړون کي ددغي شوري دپریکړو په هکله هیڅ یادونه ونه شوه اورئیس جمهور دمودي دتمدیدپه هکله دپیښوردمعاهدي دتـسلـسل رعایت په نظرکي ونیول شوچي هغه لومړي دوه میاشتي بیاځلورمیاشتي اوورپسي اتلس میاشتي نیسي چي دوروستیواتلس میاشتوحکمراني قیادي شوري دخپل ګدتصمیم له مخي هم استاذرباني ته ورحواله کړه اوپه دي ډول مرولیدل چي دحل اوعقد دقلابي شوري ټولي پریکړي کان لم یکن اوملغي وګرځیدي خودایتلافي اداري ټول ونډورچیان داستاذپه

شپیني انتخابات

شمول دهمدغي قلابي شوري پوري تړینګ ئښتي اوخوشي کړل بي نه غواړي اوکه نه نوتري وال حقوقي توروموته اوداسلام آبادوپریکړي له مخي دهغه درسمیاتوخت پوره شوي بولي اوزموږ هیواداصولاً دخپل مشرده دولودلوله کیله په خلاکي واقع دي همداوجه ده چي دمودي دپوره کیدوپه وخت کي داستاذڅخه ټولي لاري اوګودري غلطي شوي اوله ناکامه ئي دستري محکمي غیري ته پناه یوړه اودملغي شوري شوري دملغي شوي پریکړي بیاراژوندي کولو په لټه کي شواوداسي وبنئي چي داسلام آبادپریکړه دحل اوعقدوقلابي شوري ټولي پریکړي تائیدکړي اوپراځي ئي درئیس جمهوریه دوه کلني موده کي شپږمیاشتي تنقیص راوستي چي داکاریه نړي کي دنافذوحقوقي تعاملاتوپه خلاف دي ترڅکه په دي برخه کي دمحکمي غورغواړي چي په دي صورت کي په محکمي باندي لازمي وه چي دیري خواتي په تومبري فیصله کي دغه ډول تائید ته ګوته نیولي واي اودبلي خواتي دمیثاق دلاسلیك کوونکواستیضاح غوښتي وي ترڅوخبره سپینه شوي وي څکه داسلام آباد پریکړه په ټولو موادوکي داډول تائید نشته اوقیادي شوري اکثروغړوددغي زرخریدي شوري دداثربدو څخه مخکي دهغي دجوړیدواوپریکړوسره بایکاټ کړي و اوداوس ئي هم دتائیدوړنه ده ترڅکه دمحکمي پریکړه بي ځایه ده اوکه محکمي ته دشکایت څخه مطلب داوي چي داسلام آباد دمعاهدي نورلاسلیك کوونکي دهغي پابندنه دي اورئیس جمهورته هم بایددهغي څخه دسرغړوني حق ورکړل شي نوبه دي صورت کي دفیصلي څخه دنوروسرغړونه له استاذڅخه دبیعت بیرته داخستلو په معني کي راځي اودي شرعاً معزول دي څکه ددغه تړون امضاء کوونکو استاذداتلسو میاشتو لپاره خپل رئیس جمهوراعلان کړي و اوس نوددوي له خوا دتړون نه رعایت دهغه معزولیدل دي اومحکمه داسلامي امام دتنصیب حق نه لري نوفیصله اوپریکړه ئي دلته هم بي ځایه ده پورته تحقیق محکمي ته داستاذدشکایت په اساس وخبرل شوڅکه دي غواړي چي په یوه غشي دوه مرغي وولي محکمي ته دخپل شکایت په اساس ځان داسلام آباد دمعاهدي پابندبولي اودبلي خواتي په محکمي باندي دحل اوعقددقلابي شوري دمودي دپریکړي دصحت په هکله شرعي فیصله صادره کړه اوپه دواړوجالوناسته غواړي چي دادي دځان دټاکني په هکله دچلونومهارت ، اوکه فرضاً داومترجي داسلام آباد موافقه دحل اوعقددشوري دپریکړو مؤیده ده بیاهم دستري محکمي دفیصلي په تفاذکي شبهات شته څکه دائتلافي اداري اوسني قاضي القضاة دقضاپه شرایطوبرابرنه دي اودضرورت پرته نشي کولاي چي دقضاپه منصب کیني اوحکمونه وچلوي څکه دقضادوظیفي اشغال ته دبدن داعضاو سلامتیا شرط ده یعني ړونداوکوڼ په نه وي اودي په یوه سترګه معلوردي اودقضاوو دپورته کلیي په اساس نوموړي داعمي و په جمله کي راځي اودفیصلي دصدور صلاحیت تري سلب دي اوبراځي دسالم العینین دفقدان په صورت کي واحد العین کولاي شي چي دقضاوظیفه اشغال کړي معلومیږي داسي چي دایتلافي اداري په افرادو کي دغیرګوسترګوروغ خاوندان نشته اوناکامه ئي دغه واحد العین دقاضي القضاة په چوکي کمارلي دي. خوداسي نه ده بلکي دوي غواړي چي هرڅه سره ومنوري اودشرعي فیصلو دتفاذمخه ونیسي اوکه نه دفقهي شرایطو په اساس برابر علما شته اوپه ډیر مهارت سره کولاي شي چي دقاضي القضاة دمنصب چوکي اشغال کړي منه نواوس سوال دادي چي استاذ به ترکوم وخته پوري خپلودغوغیرشرعي اوقانوني کړنوته دوام ورکوي ؟

جواب واضح دي ترڅوچي ژوندي وي . راځي په دي هکله دفرانسي دیولوړتپه ماموردیرطرفي یوه برخه رواخلو دي شخص دفرانسي دعالي محکمي دقضا په چوکي کارکاوه دموقوفي دمکتوب سره سم بي عوض ورغي اوس څوك دي چي چوکي پریږدي ، عوض ئي پولیسوته شکایت وکړ دخپرودلاري پرچوکي ناست چادچوکي په پریښودلو قانع نشو کړاي اوتیغ په چوکي ناست و . اوځان بي وریوري سربت کړي و نوداکامه ځارنډو ځنځرلي دچوکي څخه ئي رانسکته اوله محکمي څخه ئي دباندي راوویست اوکله چي خلك وریاندي راټول شول ساه ئي ورکړي وه مړیروت و اوس نوددغي چوکي سره زیاتي مینې له کبله که چیري استاد چیبري پورته سرنوشت ورته پخپله منذي راوهي څکه دریاست جمهوري چوکي اودي سره په خپلوکي لازم اوملزوم دي اودجداوالي په صورت کي لوبه په مرګ ګامیدونکي ده اوکه ددغي چوکي څخه دلیري کیدو اوکفایت خبره ور یاده کړي سمدستي وایي چي امنیت مختل اوګډوډي راځي رښتیاده ګوردي ودان په افغانستان کي ځرګډوډي اوعدم امنیت ده دپاچاهي په دوره کي په ټوله نړي کي ساري نه لري اوکه همدااملاوهمدااتراوبخ وي نوحالات لدي څخه لاخراب ګورم . دحل اوعقد دجعلي شوري جوړونه ، دهرات دلویي جرګي ډرامه ، په اسلام آباد کي دمحمودمستیري په کنفرانس کي عدم ګډون په جلال اباد کي دحبتي ګونډي

(۷)مخ

که داګل و ګلزاروي ، خاروزاره څنګه وي ؟

باکمال خوشي نوشته برادر شیرشاه یوسفزي رادرقسمت انعکاسات شهادت مورخه اول قوس ۷۳هـ ش مطالعه نمودم . شکر خداست که ماصاحب مطبوعاتي شدیم که درآن آراء ونظریات یکدیگررا نقد وتحلیل کرده میتوانیم که ان شاء الله نتایج خوبي ببارخواهد آورد . ازدیرزمان مقالات برادرشیرشاه رامیخوانم، واقعاً مسائل حاد روز رابه اسلوب زیبا وموثر به رشته تحریر درآورده اند که موفقیت مزید شانرا ازبارگاه خداوند(ج) متعال استدعادارم . براي بنده تنها عنوان نوشته شان که آرزوي گل وگلزار بودن اینجانب درآن نهفته است (باصرف نظر ازطنزمخفیء درآن) کفایت میکند . ولي مسائلي درآن ذکرشده که به اجازه شان نظرخودرا نیز درمورد آن بعرض میرسانم، امیداست که مطلب مفیدي نوشته کرده بتوانم

یکي ازاصول نقد بجا وسازنده اینست که خوب وبدونقاط مثبت ومنفي را از نظرنه انداخته همه را توضیح وتحلیل مینمایدوبه این ترتیب خواننده قناعت میکندکه ناقدقصد بیان حق رادارد وتحت تأثیر احساس خصومت وتضاد شخصي قرارنگرفته است ،کوشش وسعي اش براي اهانت وتحقیردیگران نبوده ودرتلاش اثبات تردستي خودش نیست .

بانظرداشت اصل فوق آیاهیچ نقطه درنوشته بنده مورد قبول برادریوسفزي قرارنگرفته وهمه آن باطل بود ! اگر چنین نیست پس چرا برادرمان به حیث یك ناقد عادل ازآن یادآوري نکرده اند ! مثلاً بنده متذکرشده بودم که یك متعلمه یامحصله درمکاتب و پوهنتون کابل حجاب اسلامي رامراعات نمي کرد واین واقعیتي است که هیچ کسي وشایدبرادریوسفزي هم ازآن انکارنکند . از پدیدیده فوق دلیلي بودبراي اینکه جومحصیل درکابل راغیراسلامي بدانیم . حال این مربوط برادریوسفزي است که آن بي حجابي رابرطوریکه میخواهد توجیه نماید، ولي درضمن بررسي ونقد نوشتهٔ بنده ،بایدآن رامتذکر شده وحداقل صدق این سخن بنده راتائیدمیکردتاماهم ازناحیهٔ عدل وانصاف نقد شان مطمئن مي شدیم .

یك اصل دیگررانیز باید اثناء نقدمدنظربگیریم وآن اینکه براي زیرسوال گرفتن گفتارمردم واظهارشك وتردیددرموردآن ،دلایلي ارائه نمائیم که حداقل بانظرداشت آنها ،گفتارخودمان رامردم بدیدهٔ شك وتردیدننه نگرند. بطورمثال برادریوسفزي براي غیراسلامي ثابت ساختن یك شهربزرگ مثال آوردن ازصنف هشتم یکي ازمکاتب کابل (وآنهم صنفي که داکترگلزار متعلم است !!» راسست وضعیف میدانند ولي براي اسلامي ثابت ساختن آن شهرازصنف هشتم یك مکتب دیگرکابل که جناب شان متعلم آنست ، مثال آوردن راجایز، قوي ومحکم مي پندارند!! یعني معیار صدق، قوي بودن ومحکم بودن مثالهامنوط به وجود مبارك برادریوسفزي هست وبس .

امیدواریم که چنین باشد ولي واقعیت هاشاید چیز دیگري رانشاندهي کند . بامثلاً برادر

یوسفزي اعتراض برادرظفر رادرمقابل اولین مقالهٔ بنده تند، احساساتي وزائیده سوء تفاهم میدانند ولي امکان سوء تفاهم واخذ نتیجه غیرمطلوب از نوشتهٔ بنده را درمورد خودچنین نفي مینماید « اگر بازهم داکترصاحب گلزار میگویدازسخنان من سوء تعبیرصورت گرفته باید عرض کنم که نوشته شان نه شعراست که ازآن هرکسي مطابق احساسات خود تعبیرنماید . ونه فلسفه که به مشکل به معني اش پي برد وظاهرآنرا نادیده گرفته به باطن نوشته نظر نمود. بلکه مطلب شان ساده وروان مي باشد حتي متعلمین صنوف ششم مي توانند به سادگي ازآن اخذ مطلب نمایند ».

برادرجان ! چرا براي خود تعالم عالمانه قائل شده اعتراض تانرا مستدل ومنطقي تصورمیکنیدولي اعتراض دیگران راتند، احساساتي ونتیجه سوء تفاهم قلمداد نموده شهادتنامهٔ صنف ششم راهم برایش میدهید !

موضوعیکه باید پیش ازاین ودراولین مقاله ذکرمیکردم این است که وقتي نام کابل رایادآوري میکنیم عموماً هدف ساحهٔ محدود شهرکابل است نه همه ولایت کابل، زیرا اطراف آن مانند بقیه مناطق افغانستان رسم ورواج اسلامي وملي راحفظ نموده و باساتر ولایات فرقي ندارد . چون شهرکابل بانفوس چندصدهزاري اش داراي همه اقوام وملیت ها بوده ولهذا توجیه نقد واعتراض به اوضاع شهرکابل ابداً از روي تعصب وتبعیض نیست ومعني ضدکابلي بودن راندارد .برادریوسفزي متوجه باشندکه بنده قاضي نبوده واین حق را ابداً به خود نمیدهم که فتواهاي تکفیراین شهروآن شهر را صادرنمایم وایشان نیز به حیث یك مسلمان نباید چیزي رابحواله بنده بنویسند که اصلاً ازآن خبري ندارم . مثلاً برادرمیفرمایند که بنده کوشیده ام بادومثال مردم کابل رافاقد هرنوع تعلیمات ورروحیه اسلامي معرفي نموده حتي یك فیصدي اندك نیز براي مبارزه جهاد وفداکاري هاي مردم کابل قائل نشده وعقیدهٔ افراد آنرا نادیده گرفته ام !!

الله اکبر، استغفرالله العظیم من کل ذنب عظیم.

باعرض معذرت که اینچنین کلمات رانقل کردم ، زیرا ناقل آن بوده قائل آن هیچوقت نخواهم بود واین اجازه راابداً بخود نمیدهم که درمورد عموم مردم یك شهر اینطور اظهارنظرنمایم برعکس ودر نوشتهٔ گذشته بنده بصورت صریح وواضح نوشتم که خوب وبدهرجایافت مي شودوهیچ کس نمیتواند به صورت عموم فتوي صادرنمایدکه مردم فلان ولایت متدین وشهادت شعارودرمقابل مردم ولایت دیگربي دین وکمونست هستند .

مگربلي «این گفته» بنده بودوهست که فضاي شهرکابل غیراسلامي بود واین فرق بس بزرگي دارد باابن گفته که مردم کابل فاقد هرنوع تعلیمات دیني وروحیه اسلامي بودند نعوذبالله . سوالي که تاالحال جوابش رانیافتم اینست که برادریوسفزي باوجود نوشته روان وساده' بنده که حتي متعلمین صنوف ششم نیز ازآن اخذ مطلب کرده میتوانند ،چرا عکس مطلب رااخذ نموده اند!

براي توضیح بیشتر چندمثال عرض میکنم : مثلاً گفته میتوانیم که امریکا یك دولت کفري وفضاي آن کاملاً غیراسلامي است ،ولي این را گفته نمیتوانیم همه آنهائیکه درامریکازندگي میکنندکافرهستند زیرا به ملیونها مسلمان درآنجابودوباش دارند، یامثلاً میگوئیم که مردم افغانستان مسلمان هستندولي آیا این گفته صدق خواهدداشت که درافغانستان جوونضاي اسلامي حاکم هست ! فضاي یك کشورازطریق اکسیجن ویا هایدروجن اسلامي ویاغیراسلامي نمي شود بلکه شرایط حاکم برجامعه ،تصرفات واخلاق مردم وقانون جاري درآن قطعه زمین این مسئله راروشن میکند .

ودرودوهزارها درود به روان پاك شهداي کابل وهمه شهداي جهان اسلام که جان هاي شیرین شانرا براي اعلاي کلمة الله قربان کردند، ولي حتي وجود این شهداي عزیز وبزرگمردان تاریخ درشهرکابل فضاي آنرا اسلامي نساخته بود، البته براي اسلامي ساختن آن خون هاي پاك شان راریختند ومردانه واربه لقاء الله شتافتند .

وقتي میگوئیم فلان ملك یاشهراسلامي،بایداین مسئله دراذهان روشن باشدکه اصطلاح اسلامي بودن چي مفهومي دارد؟ اسلامي یعني وبصورت بسیارخلص وفشرده : حاکمیت قرآن وتطبیق اوامرالهي درجامعه . چطور میشودشهري ویامملکتي داراي فضاي اسلامي باشد که درمطبوعاتش به پیغمبر اسلام توهین کنند ،به لینن علیه اللعنه درود بفرستند به شاه فاسدصفات الوهیت خطاب کنند، بانك هاازطریق سود وربا معامله کنند، رشوت عام باشد مراکز فحشا درزیرسرپرستي حکومت فعالیت کند ، باوجوداین همه سند اسلامیت شهراصاحب کدام دل وگرده تقدیم کرده میتواند !

امااعتراض برادر درموردمثال دوم که نه تنها صدق روایت آنرا قبول نداردکه بنده رانیز فاقد معلومات ابتدائي درباره ترتیب نمازجمعه تصورمیکند، چون نمازعبادت است واجروثواب آنرا بغیرازخداازکس دیگري امیدندارم، فلهذا دراینمورد ودردفاع ازنفس خود چیزي نه مینویسم ،ولي توجه خوانندگان رابه طریقه استنباط برادرشیرشاه جلب میکنم که چطور ازنوشته دیگران نتیجه گیري مینماید: « هرنوواردي به مسجد راکه میدیدند نیت بسته کرده ، اوشان نیز به پیروي اش نیت دورکعت نمازدیگررا میکردند ». برادرمان درتعقیب جملات فوق بنده چنین مینویسند :« اولاً بایدگفت نمازجمعه باجماعت خوانده مي شود وبعدازاداي جمعه کمترمردمي به مسجدمي آیندوحتي اینکه نادراست وثانیا اگرفرضاًشخصي ناوقت بیاید ونمازجمعه ازوي فوت گردد، دورکعت نیت نمیکند زیرا اصولاً نخست باید سنت رابخواند که چهاررکعت مي باشدوبه همین ترتیب نماز پیشین راادامه میدهد بسیارخوب، من کجا نوشته ام که هرنووارد نیت دورکعت نمازرامیکرد ! اصلاً مشکل ،مشکل آن دوبرادر بوده که پي دربي بادیدن دیگران نیت دورکعت را میکردند وضرورنیست که پیروي درنیت بسان شان شامل پیروي درتعداد رکعات نیزباشد. اگربرادریوسفزي اعتراف میکند که درتمام افغانستان اشخاصي موجود هستند که باوجود فراغت ازپوهنتون مسائل ابتدائي وفرایض عیني رانمي دانند،پس چرا روایت بنده راکه درباره عین موضوع است، تردید وتکذیب مینماید! این تضاد وتناقض وآنهم دریك ستون نوشته باید کار متعلمین بالاترازصنف شش نباشد .

یك اعتراض دیگر برادریوسفزي درباره بوي کردن عطر زنانه است که فکرمیکند بنده مرتکب آن شده ام ،دراین مورد باید عرض کنم که بنده عطرهاي زنانه، قراریان تازه وارد رامتذکر شده ام ، امادرمورد بسان بیني که حسب ضرورت مارااازبوي کردن حرام نجات

ص(۳)

په اسلام کې ټولنیز نظام

ژباړن محمدعابد منصور

(په تیریسي)

عصبیت په همدي معنا په عربو کي له اسلام څخه تر مخه رواج درلوده ، پدي توګه چي د یوي قبیلي وګړو په خپلو له خپلو نورو سره په حق اوباطل کي یو تر بله کومك اوتعاون درلوده ، پدي خاطر چي هغوي په یوي واحدي قبیلي اوکورني ته منسوب وو. مګر اسلام دغه عصبیت بد وبللو اوله مینځه وړلو لپاره بي امروکړ ، لکه چي په مبارك حدیث کي له نبي کریم صلي الله علیه وسلم څخه روایت دي .

فرمایي : (لیس منا من دعا إلي عصبیة ولیس منا من مات علي عصبیة) هغه څوك زموږ له ټولي څخه ندي چي عصبیت ته بلنه کوي ، او هغه څوك له موږه څخه ندي چي دعصبیت له وجهي څخه مړشي همدغه راز فرمایي : (دعوها فانها منتنة) دا (عصبیت) پریږدي چي دایوه بدبویه چټلي ده، وروسته له دي چي دا یو جاهلي شعار ؤ چي: (انصر اخاك ظالماً اومظلوماً) معني دا چي د ورور په څنګ کي دظلم اومظلومیت په دواړو حالتونو کي ودریږه ، نو دا شعار په اسلام کي پدي باندي واوښت چي (أنصراً خاك) معنا داچي دظلم څخه بي ایسارکړه ، اودمظلوماً دامعنا چي په څنګ کي بي دظالم په ضد ودریږه .

په اسلام کي دعصبیت ناولتیا اوچټلتیا په دي حد کي نشي خلاصه کیدلاي چي هغه دجنس اوقبیلي په وجه سره وي ، بلکه پرهغه عصبیت ته شاملیږي چي دعصبیت په سبب باندي متکي اوربسه بي ورکښي موجوده وي ، هغه دا چي په باطل کي د بل سره کومك کول دیوه خاص مشارکت په بنا سره وي نو په باطل کي یو تر بله کومك کول چي د وطن ، قبیلي ، کسب کار ، اویا په مذهب کي داشتراك په وجه سره وي دا دهمغه مذموم اومرګوني عصبیت له جملي څخه دي .

رښتیا هم چي داسلامي ټولني لرُوالي دعصبیت له ټولو انواعو څخه دظلم ، تیري اوسرکښي ونده تر زیاته حده کمه وي او په عدل اوانصاف کي دخلکو دراګیرکولو په هکله کومك اومساعدت کوي اوبدي ټولو کي دټولني دوګړیو لپاره ضروري خیراوبرکت دي.

۳ - په اسلامي عقیده چي کوم اثرات مرتب دي له هغوي څخه دریم دالله تقوي ده ، تقوي د خلکوترمینځ دتفاضل اوبرتري دیرښه ټول اوترازو دي . په ټولنه کي چي عصبیت له مینځه لاړ دهغه نتایج اووریاندي مرتب اثرات هم له مینځه ځي ، چي ځني له هغوي څخه په حسب اونسب اوپه لوبانو باندي فخر کول دي ، لدي کبله چي یو انسان یوي خاصي قبیلي ته منسوب شو ، نو دا انتساب هغه ته د فخر کولو بلنه نه ورکوي ، اودهغه لپاره دلویوالي غوښتنه نشي ورکوي څکه د انسان دلوړوالي اوانتساب ترمینځ کومه رابطه وجودنلري ، بلکه معقوله داده چي انسان لوړتیا دهغه دفضائلو اوکړنه اخلاقو په تناسب سره اندازه ګیري شي ، او په هغه انداز کي باید وڅیړل شي چي د نیکو اعمالوڅخه څومره وړاندي کولي شي ، اوزا ټول هغه څه دي چي الهي تقوي ته تحقق ورکوي . له همدي کبله په اسلام کي دلوړ والي معیار الهي تقوي ده.

دا چي کوم څوك یوه خاص ځاي ، کورني ، کسب کار ته منسوب وي ،او یا په کوم خاص نامه باندي ونومول شي ، ددغه ټول انتسابونو مطلب یوازي پیژندګلوي ده چي مرتبه نتیجه تعاون اویوله بله ځي دمشکلاتو لیري کول دي ،الله تعالي فرمایي : (یاایهاالناس إنا خلقنا کم من ذکر وانثي وجعلنا کم شعوبا وقبائل لتعارفوا إن اکرمکم عندالله اتقاکم)

کله چي دخلکو قدر په دغه دقیقه اوعادلانه توګه ټول شي نو دمنافي اونیکي مسابقي او اوچتو پوړونو ته چي انسان بي تل غواړي درسیدلو لپاره به میدان سه پراخه شي اوبه مخ کي به دفقر اوفاقه ګي اودا چي رنګ اوخبره بي په څه توګه سره ده) ناریښه دي که سخیته ، نسب کي څه دول دي ، خلقت اوجوړښت کي بي ښه دي یا بد ددي ټولو په رابطه به څه سوال اوپوښتنه نوي ، اوداانسان ددیني شخصیت په وړاندي به څند نه واقع کیږي . ددي په خلاف چي څوك تقوي ونلري ، دنسب شرافت ، دمال ډیروالي دسلطه اوقدرت پراختیا ،داولاد ډیروالي ، دژبي فصاحت داتباعو زیاتي ، دمخ اوقواري جمال اوسایست داټول هغه ته کوم فضیلت اواوچت والي نشي وربښلي ، اورسول الله صلي الله علیه وسلم په یوه لند اوبلیغ قول کي پورتنیو شیانو ته داسي اشاره کوي . (من ابطأ به عمله لم یسرع به نسبه)

معني دا چي : د چا عمل او کړه وړه دنیکو طرف ته مخ په وړاندي نوي حسب اونسب هغه ته څه اوچت والي نشي ورکولي .

اود رسول الله صلي الله علیه وسلم په قول کي دنسب په یادولو کي دي نه اشاره ده چي له نسب څخه سوا نورشیان هم دشخص له اقوام اونیك پیژندني سره کومه رابطه اوعلاقه نلري نوربیا.

زه یوځل بیا اعلانوم چي حزب اسلامي به د هرهغه حرکت پهوړاندي په کلکه اومیړانه ودریږي چي له بهرنه تغذیه کیږي

یادونه :
دشهادت ورځپاڼي درتولوستونکیو،پیام آزادي راډیو تلویزیون دعقرب دمیاشتي په ډیرشمه نیټه په چهارآسیاب کي دحزب اسلامي افغانستان دقیادت په مقرکي له مجاهدوروروحکمتیار سره مرکه کړي چي ستاسي دمعلوماتودزیاتوالي له پاره یې خپروو؛

پ :محترما ! که دافغانستان دروانې سیاسي اونظامي وضعي په باب مختصر څه ووایاست دهغي په رڼاکي به مونږخپلې پوښتني مطرح کړو !

بسم الله الرحمن الرحیم
الحمدلله وکفي والسلام علي عباده الذین اصطفي وبعد :

زه امېدواریم چي جګړه په نږدي راتلونکي کي پاي ته ورسیږي ،داپه دي خاطر چي ګروومقابل طرف دجنګ توان نورتقریباً په کامل طورله لاسه ورکړي . هغه اوس په ټولوسنګرونواوجبهاتوکي تدافعي حالت کي دي. شمال، جنوب ، غرب کي په داخل دکابل کي ، هغه له خپل سابقه غرور اوتکبر نه لویدلي ، اوس هغه په دي فکرکي دي چي څنګه وکولاي شي خپل موجودیت وساتي اومقابل لوري تعرضات دفع کړي .

له سیاسي پلوه هم دمقابل لوري وضعیت ډیر پریشان دي، شمال ئي له لاسه ورکړ،په غرب کي هم ددوي اداري یوبه بل پسې تسکوربیږي ، همغه اداري چي دوي اکمال کولي ئه اوامیدیي ورته لاره ،جنوب کي هم په دوي متکي اداري تقریباً دنړېدلوپه حالت کي دي او هغوي چي څه ته امېدسانه تقریباً هغه ئي ټول له لاسه ورکړي .

ګومان ئي کاوه چي شاید دنوبو بانك نوټونو په وسیله لږه ساه واخلي ولي هغه هم ونه چلېدل له هغه نه ئي هم څه خاص شي ترلاسه نکړي شو.

زه آینده ته امېدواریم، سیاسي اونظامي حالت دشوراي عالي هماهنګي په ګټه ده .

مقابل طرف اوس دجنګ له لاري دبقا اوددوام چانس تقریباً له لاسه ورکړي اوصرف یوه لاروورته پاتي ده ،هغه داچي یومعقول حل ته غاړه کېږدي. زمونږ هدف هم له هرنوع عسکري فشارنه همدادي چي په یومعقول حل باندي ټول طرفونه توافق وکړي .

مونږ پرعسکري سوبه باورنه لرو اوډلارموغوره کړي نه ده . دمقابل طرف دنظامي شکست اوبیا دخپلوقوتونودعسکري یري له لاري دخپلي خوښي حکومت جوړول دا اصلاً زمونږپه پلان کي شامل نه دي، مونږ دمقابل طرف غرور اوتکبرماتول ، له تعرض اوتهاجم نه مأیوسه کول اوبیا فشارهغه حدته رسول چي نورهغه په زور اوسازش دحکومت کرلو خوب اوخیال پرېږدي اویومعقول اسلامي حل ته سرټیټ کړي . زمونږ هدف دادي زه ګومان کوم چي اوس موږدي هدف ته نږدي شوي یو .

پ : انجنیرصاحب دختیځ دمهمي فتحي اودشمال دځینونورو منطقو تصفیې په کابل کي دسګاو غونډي دډیري لوبي سوبي ، دلوګر، وردګو اولغمان تصفیي له دي ټولو جریانونوته توقع داسي وه چي یوځه نور مهم پوځي نورانکشافات په ډیر ژرکي سره وشي خوتراوسه کوم خاص لوي حرکت واقع شوي نه دي که دغه مسئله تاسي روښانه کړي ؟

ح : څه تعطل راغلي مګر داتعطل دوکود معني نه ورکوي، مقابل طرف داسي ونښودله چي ګویااوس دوي یومعقول حل ته تیاردي ، دمختلفووسیلوله لاري دمنځګړو هیئتونو په ذریعه هغوي مونږته داپیغامونه یوبه بل پسي لیږلي ، ګویاله دي نه بعد هغوي یومعقول حل مني، داچي دتفاهم له لاري دي یوموقت حکومت جوړشي، بیادي کابل غیرنظامي شي، مسلح قطعات دي لهکابل نه ووځي اووروسته دي انتخابات ترسره شي، ددي په نسبت اوس هغوي دخپلودي پیامونوله لاري تیاري ښودلي ، مونږ هم غوښتل چي داپو ځل وآزمویو دهغدي له پاره دامعمولي تعطل په عسکري فعالیتونوکي راغلي ، خوداپیروخت نه تیروي ډیره کمه موده اوځوروځي کېږي .

دجمعیت رهبري د داسي خبرو په لاس کي ده،چي هغوي نه سیاسي شعورلري نه دمسئولیت احساس کوي اود بهرنیو حلقو دلاس آله ګرځېدلي ده

که مقابل طرف بیا چیرته شرارت وکړ دزور اوجنګ لاره ئي اختیارکړه نوهغه بیا دجنګ اوزور آزموینې نتایجوانجام په خپله وګوري په هرصورت شاید داحالت هم دډیري مودي له پاره پاته نشي نورباید یوه وروستي اوآخري فیصله وشي. مونږدي ته ترجیح ورکوو چي مسئله دي دمذاکراتوله لاري دخبرواترو په ذریعه حل اوفصل شي خوکه مقابل طرف یوځل بیا د سابق په شان ماجراجویي کوله ، شرارت ئي کولو بیا به مناسب ځواب ورکوو .

س : برادرحکمتیارشما سه ماه قبل باتلویزیون پیام آزادي مصاحبه داشتید ودر پاسخ به یك سوال گفتید که مسعود، رباني وسیاف باید درروش خودتجدیدنظرکنند به این معني که به آنها اخطاري دادید متعاقب آن ختجان سقوط کرد، غرب کابل تصفیه شد، لوګر تصفیه شد تمام قوماندانان ولایت وردګ جمعاً آمدند باشمابیعت کردند آیااین اخطارشما درهمین جابه پایان میرسد ویااینکه ادامه دارد ؟

ج : من یك باردیگر اینرا تکرارمیکنم که اگر آنها سرعقل نیایندویه ماجراجوئي شان ادامه بدهند ویه یك حل معقول تن ندادند من گمان میکنم انجام شان وخیم است آنهاباید منتظر حوادث شبیه گذشته باشند وحتي جدي ترازحوادث گذشته وگمان نکنند که مابه کمتراز یك حکومت واقعاً منتخب اسلامي راضي خواهیم شد .

من باهمه قاطعیت وصراحت اعلان میکنم که به چیزي کمتراز حکومت منتخب اسلامي راضي نخواهیم شد انجام آن هرچه باشد، مي پذیریم ولي تلاش مابه خاطرتشکیل یك حکومت منتخب اسلامي ادامه خواهد داشت وموانعي که درسرراه وجود دارد به هرصورت وبه هر قیمتي این موانع را ازسرراه میبرداریم وملت ماباید درمورد آینده اش تصمیم بگیرد .

درمورد انتخاب زعامتش ملت فیصله کند وهرکه بخواهد ازطریق سازش، استعانت از اجانب وازطریق جنگ ، زور آزمائي حکومت کند حزب اسلامي رادرمقابل خود آماده درسنگر خواهدیدوجنگ ماتاتشکیل یك حکومت منتخب اسلامي ادامه خواهدداشت .

س : انجنیر صاحب مثلیکه گفتید دربیروزي نظامي شوراي عالي هماهنگي کمتر ازیك گام باقي مانده ولي باآن هم شما بانماینده هاي میانجي درارتباط باحل مسئله ازطریق سیاسي وتفاهم آماده هستید ومینشینید درین قسمت اگرروشني بیاندازید ؟

ج : اصلاً ما به حل عسکري باورنداریم وخواهان تحمیل یك حکومت دلخواه خود برمردم ازطریق جنگ نیستیم وماهمیشه براین اصرار داشتیم که باید احزاب باهم بنشینند برسریك حکومت قابل قبول باهم توافق کنند ، قدرت به شکل مسالمت آمیز به این حکومت انتقال یابد، عوامل جنگ منتفي شود، اوربند دائمي وسرتاسري اعلان شود. راه ها بازشوده، کابل غیرنظامي شود، قدرت به طورصادقانه ومخلصانه به این حکومت مؤقت انتقال شود، همه احزاب این حکومت مؤقت راکمك کنند وازناحیهٔ همکاري صادقانهٔ خود مطمئن سازند بعداانتخابات برگزارشود، ملت رایگذارند تادرمورد زعامت آیندهٔ کشورتصمیم بگیرند .

این جز عقیده ، جزسیاست وپالیسي ماست ، ما به این موضع خود به عنوان یك اصل اسلامي باورداریم به این خاطر هم ماهمیشه عمل عسکري راکه درواقع بالفعل بوده دربرابر تجاوز جانب مقابل به عنوان یك وسیله براي رسیدن به یك هدف انتخاب کردیم نه به عنوان اینکه مابه یك حل عسکري باورداریم . آنها شرارت کردند، ماعکس العمل نشان دادیم وفشاروارد کردیم مجبورشدیم ازجنگ به عنوان یك وسیله فشار استفاده کنیم تا جانب مقابل را ازشرارت هایش بازداریم ، زمانیکه احساس کردیم جانب مقابل به تفاهم وحل معقول حاضراست همان لحظه جنگ رامتوقف نمودیم .

پ : حکمتیارصاحب زماسوال دکابل دآزادیدوپه باره کي دي ، په دي معني چي دهماهنګي شورا دقواوو اوسنیوفتوحاتواودافغانستان دچاروپوشمیرکتونکي متقاعد کړي دي چي کابل به ډیرژرآزادیږي ،دوي یوسلسله دلائل لري یودلیل ئي دادي چي کابل محاصره دي نشي کولي چي خپل اکمالات وکړي، بل دلیل ئي دینځه زره ګون اولس زره ګون افغاني بانکنوټونوچاپول دي. دوي داچاپ کړل مګروحزب اسلامي قیادت په ځاي اوپه وخت داتصمیم ونیوه چي داني له چلښت نه وغورځول ، داددوي له پاره په عوض ددي چي ګټه وکړي نقص ئي وکړ.

په هرحال دغه دبانك نوټونوچاپولو دوي دجنګي اکمالاتوله مشکل سره مواجه کړي، بل دلیل دادي چي ددوي دقوماندانانو ترمینځ جګړي لکه په شکردره کي ، اووروستي دلیل هم دادي چي دسیاف رباني، مسعود ترمینځ اختلافات پیداشوي اوداختلاف هم اصلاً په جنګي وضعي باندي تاثیرکوي په دغودلائلو باندي دافغانستان دچارو ماهران اصلاً داسي استدلال کوي اوداسي چي کابل به ډیرژرهماهنګي دعالي شورا دقواوپه لاس کي ولوېږي .

۱- تاسو څه فکرکوي چي که چیري کابل آزاد شي دکابل آزادیدل به دهیوادپه سیاسي اوپوځي وضعي باندي کوم تاثیر وکړي ؟
۲- که چیري کابل آزاد شي اورباني دخپل حکومت مرکز کوم بل چیرته مثلاً هرات ته انتقال کړي آیاداورته عملي ده ؟
۳- دکابل له آزادي نه وروسته به دمسعودسرنوشت څنګه وي ؟

ج : ښه به داوي چي ووایو دمشکلاتواوجنجال نه دکابل ترراتلو وروسته به دشراوفساد په ځواکونو څه کیږي اوڅه به واقع کیږي ، موثرهغه ورځ ډیر نږدي ګڼواوهغي ته اوس ډیرزیات امېدواریو چي ان شاء الله په نږدي راتلونکي کي به دکابل مظلوم اولس دشراوفساد دناروا ، ناجایز اوظالمانه تسلط نه ژغورل کیږي دشراوفسادقوتونه به ماتي خوري اوشکستونه اکثراً په دغسي جبهاتوکي چي عقیده ئي، نظریه ئي پاکه نه وي دغسي شدیدو اختلافاتوباعث ګرځي، ددوي ترمینځ جګړي اوشخړي ، دقوماندانانوترمینځ شدید برخوردونه داټول ددي له پاره یوواضح ثبوت دي چي ددوي حالت ډیرپریشان دي، دغه پریشان حالت همغه قوتونه چي راغونډ کړي یې دي دمتلاشي کیدوپه حال کي دي طبعي ده چي دکابل په سیاسي حالت کي تبدیلي اوتغیر په ټوله اوضاع باندي عمیق اوژور اثرکوي خودا دمقابل لوري په روحي یوري اړه لري اوهغه په جګړي اصرارکوي تراخره پوري اوترآخري شیبوپوري اوپه دي ترتیب خپل انجام له شوموعواقبو سره مخامخ کوي اوکه له دي نه مخکي هغه سوچ کوي اودسوچ اوسنجش په رڼاکي یومعقول حل ته تسلیمیږي ، که هغوي ترآخري مرمي پوري په جنګ داصرارلارغوره کړي بیا ددي احتمال شته چي هغوي دکابل پریښودوته مجبورشي، هرات اوپنجشیر ته مرکز انتقال کړي ، پنجشیر دروته پناه یوسي خوحقیقت دادي چي زه په هغوي کي دمقاومت کولو امکانات ډیرکم وینم ، ددوي هغه ساختاراوجوړښت دادي چي مخصوصاً په دغو دوه نیموکلونوکي چي هغوي په اقتدارکي پاته شوي دي اوپه وسیع امکاناتو ددولت اودملت پښتنیوخپل انحیرالان اکمال کړي که څوك دهغوي خزانه دربدلي دغلطو تصرفاتو په نتیجه کي ډیرګرانه ده چي هغه دي دیومنظم قوت په حیث داوږدي مودي له پاره دیومرکزي حکومت په خلاف مقاومت وکړي شي دهغه ترشابهرني طاقتونو اودنجیب نه په میراث پاتي ټول پوځ اوټولي اداري اوځادله خپلوټول وسیع تجربو اوپرسونل سره ددولت له ټولو امکاناتواوله بهرنه دروس ملاتړحتي دامریکاملاتړ دګڼشو همسایه ملکونوحمایت ددي ټولوامکاناتوسره ،سره چي هغي په مرکز کي مقاومت ونشو کولي له پایتخت نه دوتلو نه بعداوبوشکست نه وروسته څنګه کولاي شي چي په پنجشیریاهرات کي مقاومت وکړاي شي .

که دوي غواړي چي له بد شوم انجام نه وژغورلي شي بهتره داده چي هغه اوس معقولي فیصلي وکړي اوترآخري مرحلي پوري په جنګ اصرارونکړي . مونږ دانه غواړوچي جمعیت حذف کړو، دانه غواړوچي دمقابل طرف نه غچ اوانتقام واخلو، دانه غواړو چي دیوه لوري اودیوحزب حکومت په ټول ملك مسلط کړو، مونږداحزابو په تعدد باورلرو، سعه صدر اوحوصله لرو، سیاسي احزاب مثو اودیواسلامي نظام له پاره دامفیدګڼو، اوداستبدادي نظام دمخنیوي له پاره داحزابو تعدد ضروري ګڼو.جمعیت کولي شي دیوسیاسي حزب په حیث پاته شي، خپل مناسب رول اداکړي، خوکه جمعیت غواړي چي دیوسیاسي حزب په حیث پاته شي، باید دهغه رهبري اوواك زعامت دمسئولوځیرولاس کي پریوځي چي هغه دپردویه لاس کي دبوالي اوذریعي په حیث داستعمالیدوځاي دخپل ملك په نسبت فکروکړي ، احساس دمسئولیت وکړي، اوس متاسفانه چي دجمعیت رهبري اوزعامت عملي طور دداسي خبرویه لاس کي ده چي هغه نه سیاسي شعور لري، نه دمسئولیت احساس کوي، بهرنیو حلقوراوړاندي کړي ، روزلي ، هغوي ته یې شهرت ورکړي ددي حالت نه باید جمعیت ووځي چي دماجراجوعناصروله تسلط نه باید جمعیت وژغورلي شي، په هغه صورت کي کیدي شي چي جمعیت خپل مناسب رول دافغانستان په فضاباوکي ترسره کړي .

مونږ غواړو داشرایط جمعیت ته مساعدشي اوجمعیت کولي شي دیوسیاسي حزب په حیث خپل رول اداکړي ، احزاب دووروپه شان افغانستان کي ژوندوکړي ، رقابت ئي معقول اومسالمت آمیزوي، سیاسي رقابت، نه عسکري اونظامي رقابت مونږدي ته تیاریو . *

زه آینده ته امید وارېم ، سیاسي اونظامي حالت دشوراي عالي هماهنګي په ګټه دي . مقابل طرف دجنګ له لاري دبقا او دوام چانس تقریباً له لاسه ورکړي اوصرف یوه لار ورته پاتي ده هغه داچي یومعقول حل ته غاړه کېږدي

پ : زمابله پوښتنه دافغانستان دیوبل ښارقندهارپه باره کي ده . کندهار کي یوڅه پیښي وشوي ستاسي نظریه دي باره کي څه دي ؟

ځ : باید عرض وکړم چي په کاردي ددي پیښي ریښي اواصلي عوامل وسنجوي ، کندهاروکابل په شان دیوسازش په نتیجه کي ځینوخاصوقوماندانانوپه واسطه وران ویجاړشو . داقوماندانان دکابل په شان اکثراً هغه قوماندانان وو چي پخواني دنجیب له اداري سره پروتوکولونه درلودل اودغه سابقه ئاسي پاسني پروتوکول او همکاریوپه نتیجه کي دکندهاراداره دغوقوماندانانوته وسپارلي شوه . لکه په کابل کي مسعود، اکثرمجاهدین له دغي اداري نه بهرپاته شو، دکندهاراداري اودکابل دائتلافي اداري ترمینځ خاصي اړیکي دي، کندهارهم دهمغه سازش په نتیجه کي هغوځواکونوته ورسپارل شوي چي کابل ورته سپارل شوي .

